پوهندوی شېرزاد عزيزي
اسلامي ثقافت څانگه ،شرعياتو پوهنځی ، ننگرهار پوهنتون
تقريظ ورکوونکی: پوهاند سيد محبوب شا هاشمي او پوهنوال محمد شريف رحماني

# په اسلامي شريعت کې
# له تولد څخه مخکې د اولاد حقوق


## لنډيز:

ا سلامي شريعت انسان ته دژوند په هره مرحله کې ارزښت ورکړی دی او دهغه دمصلحت په خاطر يې احکام رالېږلي دي ، له تولد څخه مخکې هم ا سلام دانسان لپاره حقوق ټاکلي دي ، ستونزه داده چې زيات شمېرمسلمانان په دې نه دي پوه چې دمور په رحم کې به هم يوموجود دحقوقو څخه برخمن وي .ددې مقالې دليکنې موخه داده چې وا لدين په دې پوه شي چې اولاد نه يوائې دا چې تولد څخه وروسته په هره مرحله کې حقوق لري بلکې له تولد څخه مخکې هم له حقوقو برخمند دي ، او ارزښت يې په دې کې دی چې په دې مقاله کې دوخت دغوښتنو سره سم داولاد هغه حقوق بيان شوي دي چې له تولد څخه مخکې اولاد پر خپل مور او پلار لري ، او پکې هغو احکامو ته هم اشاره شوې ده چې څوک خپل اولاد په قصدي يا غير قصدي ډول ضايع کوي. په دې موضوع کې که څه هم کتابونه او ليکنې شتون لري خو يا په بهرنيو ژبو دي او يا هم تيت او پراکنده دي، له تولد څخه مخکې اسلامي شريعت والدينوته لارښوونه کوي چې د يو ديندراه او با مسؤليته کورنۍ دجوړښت اوصالحه اولاد څخه دبرخمن کېدو په خاطر ازدواج د ديانت پر اساس ترسره او په ازدواجي ژوند کې د سنتو اتباع وکړي، دصالح اولاد دغوښتنې لپاره له خپل رب څخه دعاگانې وغواړي ، ازدواج د نسل ساتنې په خاطرترسره کړي ، اسلامی شريعت بې له شرعي عذره دجنين سقط ناروا گرځولی دی ، والدين مکلف دی چې دمور په خېټه کې دجنين دصحت محافظت او ساتنه وکړي ، له همدې کبله يې دجنين دمور زيات مراعات کړی دی ، درمضان دميا شتې دروژو خوړل يې ورته جايز کړي دي ، دتولد تر وخته يې قصاص او حدود ورته معاف کړی دي ، په ميراث کې دهغه ونډه ټاکلې ده ، په تکفين ، تدفين او جنازه کې دنورو انسانانو په څېر حقوق ورکړي دي.


**کليدي کلمات:**حقوق، اولاد،ازدواج ، توالد او تناسل ، نسب ، جنين .

## سريزه :

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على رسول رب العالمين. وبعد

اسلام دبشريت دين دی ، دبشريت دفلاح او کاميابۍ لپاره هر اړخيز احکام لري ، دانساني ژوند په هره مرحله کې ځانگړي حقوق په نظرکې نيولي دي ، له تولد څخه مخکې داسلامي شريعت په رڼا کې

داولاد دحقوقو تفصيلي بيان  داسلام ددين په عظمت  دلالت کوي ، د دغو حقوقو له  بيانولو څرګنديږي چې اسلام دانسان دخلقت او عملي ژوند په هکله  بشپړ بيان  کړی دی ،خو متاسفانه ډېر مسلمانان له دغو احکامو ناخبره دي ،  همدا ســبب دی چې ځينې خلک  دمور په خېټه کې دجنين پر ژوند تېری کوي له منځه يې وړي او ســقط کوي يې ، يا دهغه په معنوي او مالي حقوقو تېری کوي له ميراثه يې محروموي، دمېرمنو په وهلو او ټکولو لاس پورې کوي چې داولاد د ضياع  سبب ګرځي  ، تر دې چې ديو انسان په توګه ورته نظر نه کوي ، ا سلامي شريعت والدين مکلف کړي دي  چې داولاد په خاطر له نکاح کولو نيولی ، دنســل تر ســاتنی ، دجنين تر حفاظت ، داولادونو دمور دحقوقو ترمراعات کولو او دجنين دټولو هغو حقوقو څخه ځانونه خبر کړي چې په دې مقاله کې ترې په ترتيب سره يادونه شوې ده.

**دڅېړنې موخې:دغه څېړنه دلاندې موخو دتحقق په خاطر ترسره شوې ده.**

١- داســلامي شريعـت پــه رڼـا کــې د اولاد هغـه حقـوق روښـانه کـول چــې لـه تولـد څخـه مخکــې پـر والدينو لازم کړي دي.

٢- د اسلام په رڼا کې دانساني نسل ساتنې ارزښت بيانول.

٣- دجنين دحقوقو بيان او څېړنه.

۴- دفقهاؤ دنظرياتو په رڼاکې دجنين دسقط احکام بيانول.

**دموضوع ارزښت :**

دســاينس او ټکنــالوژۍ لــه رامنځتــه کېــدو دمخــه قــران کــريم دانســان درامنځتــه کېــدو مراحــل بيــان کــړی دي ، او بيــا يــې دهــرې مرحلــې ځــانګړي حقــوق تعــين کــړي چــې دبشرــ دحقـوقـو زمامــدارانو ســلګونه کلونــه وروســته پــرې اعــتراف وکــړ او پــه دې اړه يــې قــوانين وټاکــل  پــه دې مقالــه کــې همدغو حقوقو ته اشاره شوې ده.

## پوښتنې:

١- ايا اسلامي شريعت له تولد څخه مخکې د اولاد حقوق بيان کړی دی؟

٢- ايا اسلام دانساني نسل دساتنې لپاره کومه ځانګړې لاره ښودلې ده؟

۳- ایا دمور په رحم کې دجنین دحفاظت لپاره اسلامي شریعت احکام بیان کړي دي ؟

۴- ایا اسلامي شریعت عزل ته اجازه ورکړې ده ؟

۵- پـه کومـو حـالاتو کـې اسـلامي شریعـت د جنـین سـقط تـه اجـازه ورکـړې ده او پـه کومـو حـالاتو کې نه ورکړې؟

٦- دحمل په حالت کې اسلامي شریعت دجنین په خاطر دښځې څومره مراعات کړی دی؟

۷- ایا په میراث کې اسلامي شریعت دجنین حقوق بیان کړي دي؟

## دڅېړنې تګلاره

داچــې دا یــوه کتــابتوني څېړنــه ده نــو پــه دې اســاس دموضــوع دبشــپړ وضــاحت لپــاره لــه قــراني نصوصــو ، داحــادیثو دبــاوري کتــابونو ، دمعــاصرو علــماؤ دنــوو لیکنــو څخــه اســتفاده شــوې ده ، دعلمــي اصـل پـه نظـر کـې نیولـو سره دهـرې مرجـع او مصـدر نـوم ، دلیکـونکي نـوم ، دچـاپ ځـای او کـال ، جلـد او صـفحه دمقـالې پـه لمـن لیـک کـې واضـح شـوې دي ، دایـاتونو دژبـاړې لپـاره مـې دپښـتو ژبـې لـه بـاوري تفسـیرونو څخـه اسـتفاده کـړی ده، دلـوړو زده کـړو دمحـترم وزارت دعلمـي څېړنو دلارښود اصول پکې مراعات شوی دي

## تېرو لیکنو ته کتنه:

داولاد دحقوقـو پـه اړه پـه عمـومي ډول زیـات شـمېر کتابونـه لیکـل شـوي دي ، خـو پـه مشـخص ډول لـه تولـد څخـه مخکـې داولادونـو دحقوقـو پـه اړه کومـه ځـانګړې لیکنـه زمـا لـه نظـره نـه ده تېـره شـوې، خوپخوانیـو فقهـاؤ او عصـري علـماؤ پـه خپلـو کتـابونو کـې دغـه موضـوع پـه پراګنـده ډول څېړلــې ده دبېلګــې پــه توګــه د څلــورو مــذاهبو دفقهــې کتابونــه ،پــه عصــري لیکنــو کــې (حرکــة تحدیـد النسـل) ، دمولانـا مـودودي رحمـه اللـه لیکنـه ، (قواعـد فقـه الاسـلامي) ، ددکتـور محمـد

روکـــي ليکنـــه ، ، (حقـــوق الأولاد عـــلى الوالـــدين في الشرـــيعة الإســـلامية) . ددکتـــور محمـــد مصـطفى الـزحيلي تـاليف. (فـتحُ البيـان في مقاصـد القـرآن) ، د أبـو الطيـب محمـد صـديق خـان بـن حسـن بـن عـلي ابـن لطـف اللـه الحسيني البخـاري القِنَّـوجي ليکنـه.(احکام الجنـين والطفـل فـى الفقـه الاسـلامي) ددکتـور عواطـف تحسـين ددکتـورا رسـاله . (احيـاء علـوم الـدين ) دامـام غـزالي ليکنـه. (تربيـة الأبنـاء والبنـات في ضـوء القرآن والسـنة( د خالـد عبـدالرحمن العـک ليکنـه. ((تحفـة الـودود بأحکـام المولـود).د مـام ابـن القـيم ليکنـه.(الطفل فـى الشرـيعة السـلامية تنشـئته حياتـه حقوقـه التـي کفلهـا الاسـلام ) ددکتـور محمـد صـالح ليکنـه اوداسـې نـور چـې پـه اړونـده موضـوع کـې مشخصـا نـه دي ليکـل شـوي خـو لـه تولـد څخـه مخکـې داولادونـو دحقوقـو پـه اړه يـې علمـي معلومـات داسـلامي شريعـت پـه رڼـا کـې واضـح کـړي دي ، چـې ليکـل شـوی مقالـه پـه بشـپړه توگـه لـه ذکـر شـوو ليکنـو څخـه متفاوتـه ده ، داځکـه چـې مقالـه مشخصـا داولاد پـه هغـو حقوقـو راڅرخيـږي چـې لـه تولـد څخـه مخکـې دي ، دليکنـې اسـلوب يـې دافغانسـتان دڅېړنـو دميتود سره برابر دی ، او په پښتو ژبه ليکل شوې ده.

## له تولد څخه مخکې د اولاد حقوق

اولاد پـر خپـل پـلار زيـات حقـوق لـري چـې ځينـې يـې لـه تولـد څخـه مخکـې او ځينـې لـه تولـد څخـه وروسـته دي ، پـه دې مقالـه کـې بـه پـه هغـو حقوقـو بحـث وکړوچـې اسـلامي شريعـت اولادونـو ته له تولد څخه مخکې پر والدينو لازم کړي دي چې په لاندې ډول ترې يادونه کوو .

**۱- د ښې مور انتخاب**

دتربيـت علـماء وايـي پـه پـلار بانـدې لازمـه ده چـې لـه ولادت څخـه دمخـه داولاد پـه تربيـت پېـل وکړي ، او داکـار دمېـرمن لـه انتخابـه پېـل کېـږي ، هغـه ځـوان چـې نـن پـر يـوه انجلـۍ خطبـه کـوي او دنکـاح لپـاره يـې تيـاکي ، هغـه دسـبا مېـرمن ده ، دراتلـونکي مـور ده ، د کوچنيـانو روزونکـې او دامـت جـوړوونکې ده ، مـور لـومړنۍ مدرسـه ده چـې پـه سـيوري کـې يـې کوچنيـان رالـويېږي، مـور لـه وړوکـوالي دشـېدو ترڅنـګ اولاد تـه دتربيـت غـذا ورکـوي ، اسـلامي عقيـده اوغـوره اخـلاق ورتـه ترزيقـوي ، لـه وړوکـوالي دهغـه پـه ذهـن کـې داسـې څـه ورداخلـوي چـې دژونـد پـه اوږدو کـې تـرې ګټه پورته کړي ، لـه داسـې افکـارو يـې لـرې سـاتي چـې فطـرت يـې فاسـدوي ، نـو دخپلـو اولادونـو پـه خـاطر دمېـرمن غـوره انتخـاب لـه نـورو چـارو څخـه زيـات ارزښـت لـري ځکـه رسـول اللـه صـلی

الله علیه وسلم مور ته لارښوونه کړې ده چې: « تَخَيَّرُوا لِنُطَفِكُمْ وَأَنْكِحُوا الأَكْفَاءَ وَأَنْكِحُوا إِلَيْهِمْ ».[1]

یعنې : دخپلې نطفې لپاره ښه ځاي وټاکئ ، له خپل سره نکاح وکړئ او کف ته یې په نکاح ورکړئ.

نو لازمه ده چې دخپلو اولادونو لپاره داسې مور انتخاب شي چې سالمه تربیه یې وکړي ، ښه یې وساتي ، امانتداره اوسي دتقوا او ښو اخلاقو څښتنه اوسي ، رسول الله صلى الله علیه وسلم په دې هکله داسې فرمایي: ((تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ لِأَرْبَعٍ لِمَالِهَا وَلِحَسَبِهَا وَجَمَالِهَا وَلِدِينِهَا فَاظْفَرْ بِذَاتِ الدِّينِ تَرِبَتْ يَدَاكَ))(2)

یعنې ښځه دڅلوروصفتونوله کبله په نکاح کېږي،ځینې خلک یې دمال په خاطرپه نکاح کوي ،ځینې یې دنسب دلوړوالي په خاطر،ځیني یې دښکلاپه خاطر،اوځیني خلک یې دینداري په نظر کې نیسي۔ ،خو تر ټولوکامیاب انسان هغه دی په نکاح کې دښځې دینداري په نظر کې ونیسي .

درسول الله صلى الله علیه وسلم دلارښوونې پر اساس غوره نکاح هغه ده چې ددینداری په خاطر تر سره شي، په یو بل حدیث کې رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل امتیان دې موضوع ته داسې متوجه کوي : (لَا تَزَوَّجُوا النِّسَاءَ لِحُسْنِهِنَّ فَعَسَى حُسْنُهُنَّ أَنْ يُرْدِيَهُنَّ وَلَا تَزَوَّجُوهُنَّ لِأَمْوَالِهِنَّ فَعَسَى أَمْوَالُهُنَّ أَنْ تُطْغِيَهُنَّ وَلَكِنْ تَزَوَّجُوهُنَّ عَلَى الدِّينِ وَلَأَمَةٌ خَرْمَاءُ سَوْدَاءُ ذَاتُ دِينٍ أَفْضَلُ)3

یعنې :دښځې په انتخاب کې یواځې دهغې ښایست په نظر کې مه نیسئ،کېدې شي ښایست یې دهغې دهلاکت باعث شي،مه یې دمال په خاطر په نکاح کوئ،کېدې شي دمال په سبب سرکشي۔ انتخاب کړي ،بلکې دښځې دینداري په نظر نیسئ،هغه وینځه چې غوږ اوپزه پرې وي اودینداره وي دنکاح لپاره ډېره غوره ده ،(له بې دینه ښځې نه)

په همدې توګه ښځه او دښځې اولیاء هم باید د اولادونو په خاطر دتقوا داره شخص په لټه کې شي او هغه چاسره دنکاح تړون ترسره کړي چې دتقوا څښتن وي او دمېړمن ټول شرعي

---

[1] - أبو بكر أحمد بن الحسين بن علي البيهقي،(1344 هـ) السنن الكبرى ، مجلس دائرة المعارف النظامية الكائنة في الهند ببلدة حيدر آباد لومړی چاپ -7ج ، 133ص.

[2]- ابو عبد الله محمد بن إسماعيل البخاري، (1407هـ) صحيح البخاري ، تحقيق محب الدين الخطيب،القاهرة،دريم چاپ, المكتبة السلفية. ،١٦ج،٣٣ص،٤٧٠٠حديث.

[3]- محمد بن يزيد أبو عبدالله القزويني (__________) سنن ابن ماجه، تحقيق: محمد فؤاد عبد الباقي، دارالفكر – بيروت. ٥ج،٤٥٧ص،١٨٤٩حديث.

حقـوق پـه سـمه توگـه اداء کړي.ځکـه رسـول اللـه صـلی اللـه لارښـوونه کـړی چـې : « إِذَا جَـاءَكُمْ مَـنْ تَرْضَوْنَ دِينَهُ وَخُلُقَهُ فَأَنْكِحُوهُ إِلاَّ تَفْعَلُوهُ تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الأَرْضِ وَفَسَادٌ عَرِيضٌ »[1]

یعنـې : کلـه چـې تاسـې تـه دنکـاح پـه خـاطر داسـې څـوک راشي چـې لـه دیانـت او اخلاقـو څخـه یې ډاډه اوسی نو پـه نکـاح یـې ورکـړئ ، کـه مـو دا کـار ونـه کـړ نـو پـه زمکـه کـې بـه دلـوېې فتنـې او فساد لامل شي.

**۲- په ازدواجي ژوند کې دسنتو اتباع او دصالح اولاد غوښتنه.**

پـه واده او لـه واده څخـه وروسـته پـه ازدواجـي ژونـد کـې دسـنتو اتبـاع ژونـد لـه برکتـه ډکـوي دمینـې ، محبــت اوســکون باعــث گرځــي ، دمېــرمن سره دکــوروالي پرمهــال دســنتو دعاگــانو لوســتل دصـالح اولاد دتولـد وسـیله ده ، درسـول اللـه صـلی اللـه علیـه وسـلم لارښـوونه ده چـې لـه تاسـې څخـه هـر یـودخپلې مېرمنـې سره دکوروالـه اراده وکـړئ نـو دا دعـا دې ولـولئ:" بِسْـمِ اللَّـهِ , اللَّهُـمَّ جَنِّبْنَـا الشَّـيْطَانَ , وَجَنِّـبْ الشَّـيْطَانَ مَـا رَزَقْتَنَـا" ثُـمَّ قُـدِّرَ بَيْـنَهُمَا وَلَـدٌ , لَـمْ يَضُرُّهُ شَـيْطَانٌ أَبَـدًا وَلَـمْ يُسَلَّطْ عَلَيْهِ" 2

یعنې :دسپېځلي رب پـه نامـه ، پروردگـاره لـه شـیطانه پنـا راکـړې ، لـه هغـه څـه نـه چـې تـه یـې مـوږ تـه راکـوی شـیطان لـرې وسـاتی ، کـه دې دواړو تـه اللـه تعـالی اولاد ورکـړ ، نـه بـه شـیطان کـوم زیان ور ورسوي او نه به پرې مسلط شي.

مسـلمان تـه پـه کـار ده چـې لـه اللـه تعـالی څخـه دصـالح اولاد دعـا وغـواړي تـر څـو پـه ژونـد او لـه مرگـه وروسـته ورتـه گټـه ورسـوي ، اللـه تعـالی دخپلـو ریښـتینو بنـده گـانو پـه صـفت کـې فرمـایي : "وَالَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ وَاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا"[3]

ژباړه: او هغه کسان چې دعاگانې کوي چې ای زموږ پروردگاره! موږ ته له خپلو  مېرمنو او اولادونو څخه د سترگو یخنی راکړه او موږ د پرهېزگارانو امامان وگرځوه

**۳- دتوالد او تناسل په نیت  واده کول.**

---

1- أبو بكر أحمد بن الحسين بن علي البيهقي،(1344 هـ) السنن الكبرى، مجلس دائرة المعارف النظامية الكائنة في الهند ببلدة حيدر آباد لومړی چاپ ، 7ج ، 82 ص.

[2]- محمد بن فتوح الحميدي،(1423هـ - 2002م) الجمع بين الصحيحين البخاري ومسلم، دار ابن حزم - لبنان/ بيروت – 2ج ،30ص.
[3]- القران كريم { الفرقان، آية: 79}.

اسلامي شريعت دنسل دحفاظت او كثرت غوښتنه كوي او له دې امله يې نكاح ضروري وګڼله رسول الله صلى الله عليه وسلم خپل امتيان تشويق كړي دي چې نكاح دنسل په خاطر ترسره كړي ، درسول الله صلى الله عليه وسلم په وړاندې يو سړی حاضر شو او وې ويل : يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّى أَصَبْتُ امْرَأَةً ذَاتَ حَسَبٍ وَمَنْصِبٍ وَمَالٍ إِلاَّ أَنَّهَا لاَ تَلِدُ أَفَأَتَزَوَّجُهَا؟ فَنَهَاهُ ثُمَّ أَتَاهُ الثَّانِيَةَ فَقَالَ لَهُ مِثْلَ ذَلِكَ فَنَهَاهُ ثُمَّ أَتَاهُ الثَّالِثَةَ فَقَالَ لَهُ مِثْلَ ذَلِكَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- :« تَزَوَّجُوا الْوَدُودَ الْوَلُودَ فَإِنِّى مُكَاثِرٌ بِكُمُ الأُمَمَ ».1

اى الله تعالى رسوله ! زه ديوې داسې ښځې سره چې دشهرت منصب او مال ښتنه ده خو اولاد نه راوړي نكاح وكړم؟ هغه صلى الله عليه وسلم له دغه كاره منعه كړ ، بيا يې غوښتنه وكړه ، بيا يې منعه كړ ، په دريم ځل يې بيا غوښتنه وكړه بيا هم رسول الله صلى الله عليه وسلم هماغه خبره ورته وكړه او وې فرمايل :مينه ناكې او اولاد راوړونكې ښځې په نكاح كړئ ، دامتونو په منځ كې زه ستاسې په ډېروالي وياړم.

له همدې كبله دنسل قطع كول او داولاد بندول په اسلامي شريعت كې حرام ګرځول شوي دي كه څه هم داړتيا پرمهال يې تظيم په فردي لحاظ جايز ګرځولی دی چې په ټوله كې داسلامي امت پر كمولو كې كوم اغېز نه لري.

دجنين اسقاط ( غورزول) هغه كه دنكاح په صورت كې منځ ته راغلی وي او كه دزنا په صورت كې جرم دی كه دمور په رحم كې له روح راتلو څخه وروسته وي دفقهاؤ په اتفاق دهغه اسقاط حرام دی كه څه هم دهغه په پاتې كېدو كې دمور دتلف كېدو احتمال موجود وي دا ځكه چې دمور مرګ احتمالي او دجنين مرګ يقيني دی نو ديو انسان وژل ديو نامعلوم كار په خاطر جايز نه دی.2. او كه دروح له راتلو څخه مخكې وي نو په حكم كې دفقهاؤ په منځ كې اختلاف دی چې په وروسته به ترې په تفصيل سره يادونه وشي.

البته كه دمور تلف كېدل ديقين تر بريده ورسيږي نو بيا دجنين لرې كول جواز لري چې په اړه به يې وروسته په تفصيل سره يادونه وشي.

بې له عذره دجنين اسقاط دجاهليت زماني دودونو سره مشابهت دی درسول الله صلى الله عليه وسلم له راتلو دمخه به ددو اسبابو له كبله خلكو خپل اولادونه وژل :

١- داقتصادي وضع له كبله ، دوي وېرېدل چې وږی به شي .

---

1- أبو بكر أحمد بن الحسين بن علي البيهقي ، (1344 هـ )السنن الكبرى وفي ذيله الجوهر النقي ، الناشر : مجلس دائرة المعارف النظامية الكائنة في الهند ببلدة حيدر آباد ، لومړی چاپ . 7ج ، 81ص.

2 - محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي (1412هـ - 1992م)حاشية رد المختار على الدر المختار شرح تنوير الأبصار ، دار الفكر للطباعة والنشر بيروت١ج ، ٦٠٢ص .

زين الدين بن إبراهيم بن محمد الشهير بابن نجيم الحنفي (1422هـ -2002م ) البحرالرائق شرح كنز الدقائق ، دار احياء التراث العربي لومړی چاپ ،٨ج ، ٢٣٣ص. تقي الدين أحمد بن عبد الحليم بن تيمية الحراني ، أبو العباس (1426 هـ / 2005 م ) مجموع الفتاوى , دار الوفاء , دريم چاپ ،٥ج ٣٠١ص.

اللــه تعــالی ددوي دغــه وېــره پــه داســې توګــه لــرې کــړه:(( وَلَا تَقْتُلُــوا أَوْلَادَكُــمْ مِــنْ إِمْــلَاقٍ نَحْــنُ نَرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ...))[1]

ژباړه : دلوږې له کبله مو اولادونه مه وژنئ موږ تاسې ته هم روزي درکوو او دوي ته هم ..

او په يوبل ايت کـې پـه پـوره تفصيل سره ددې خـبرې يادونـه کـوي چـې الله تعـالی چـا تـه وغـواړي پراخـه روزي ورکـوي او چـا تـه چـې وغـواړي کمـوي يـې ، اولادونـه لـه دې کبلـه مـه وژنـئ چـې هغـوي درنـه روزي خـوري ، هغـوي تـه هـم اللـه تعـالی روزي ورکـوي او تاسـې تـه هـم ، پـه دې اړه داسې لاربښوونه کوي :

"إِنَّ رَبَّـكَ يَبْسُـطُ الـرِّزْقَ لِمَـنْ يَشَـاءُ وَيَقْـدِرُ إِنَّـهُ كَـانَ بِعِبَـادِهِ خَبِـيرًا بَصِـيرًا (الإسراء30) وَلَا تَقْتُلُـوا أَوْلَادَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلَاقٍ نَحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّاكُمْ إِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْئًا كَبِيرًا)[2]

ژباړه: ستا رب چې چاته غواړي روزي پراخوي او چاته يې چې خوښه شي تنګوي يې. هغه د خپلو بندګانو له حاله باخبر دی او هغوی وينی.

خپل اولادونه د بيوزلۍ له ويرې مه وژنئ موږ به هغو ته هم روزي ورکړو او تاسې ته هم . په حقيقت کې د هغو وژل ستره ګناه ده.

۲- له حده زيات غيرت له کبله ، چې دشرم له وجې به يې لورګانې ژوندۍ ښخولې.

پـه دې اړه اللـه تعـالی داسـې يادونـه کـوي: وَإِذَا الْمَـوْءُودَةُ سُـئِلَتْ (8) بِـأَيِّ ذَنْـبٍ قُتِلَـتْ (9)سـورة التکوير.

ژباړه:کلـه چـې دژونـدۍ ښـخې کـړی شـوې نجلـۍ څخـه پوښـتنه وشي چـې هغـه پـه کومـه ګنـاه وژل شوې؟

داسلام لـه راتـګ وروسـته دا عمـل نـاروا وګڼـل شـو ، البتـه عـزل[3] تـه اجـازت ورکـړل شـوه او هغـه هـم دځو معاذيرو په بناء چې په لاندې توګه ورته اشاره کوو :

چې وينځه حامله نشي او بيا به بادار نشي کولاي چې هغه وپلوري .

چـې وينځـه ام ولـده نشـی چـې دولـد پـه وجـه بـه ازاده شي نـه بـه يـې پلـورلی شي او نـه بـه يـې پـه ميراث وړلی شي.

چې درضاع پرمهال که مور حامله شي نو شېدې رودونکي ماشوم ته به ضرر ورسيږي.[4]

له همدې کبلـه رسـول اللـه صـلی اللـه عليـه وسـلم دعـزل حرمـت اعـلان نـه کـړ ، او نـه يـې پـه کلکـه خلک ترې منعـه کـړل ، کـه داوسـنی زمـانې پـه څېـر درسـول اللـه صـلی اللـه عليـه وسـلم

1- القران كريم {الأنعام أية 151}
2- القران كريم {الإسراء أية 30-31}
3- عزل دې ته ويل کېږي چې يوسړی مېرمن سره دکوروالي پرمهال خپله مني دمېرمن له فرج څخه بهر توی کړي.
4- سيد أبوالأعلى المودودي (1399ه – 1979م )حركة تحديد النسل ، مؤسسة الرسالة ، بيروت ، ص ، ١٣٨- ١٤٣.

په وخت کې دا کار دیو حرکت په څېر شروع شوی ؤ ، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به بې له شکه له دې کار څخه خلک منعه کړي وو.

### ۴- دجنین له سقط څخه ځان ساتل.

دجنین پېژندنه.
دجنین لغوي تعریف
جنین له جن څخه اخستل شوی ، دپټوالي په معنا دی او جنین ته ځکه دا نوم ورکول شوی دی چې دمور په خېټه کې پټ وي او په سترګو نه ښکاره کېږي ، الله تعالی فرمايي : "وَإِذْ أَنْتُمْ أَجِنَّةٌ فِي بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ"[1]
ژباړه : او کله چې تاسې لادخپلو مېندو په ګېډو کې اومه ماشومان ( جنین ) وئ .
دجنین اصطلاحي تعریف
د مور په رحم کې هغه موجود چې تولد شوی نه وي دجنین په نامه یادېږي ، لومړی نطفه ، بیا دغوښې ټوټه ، او بیا جنین شي. جنین ورته ځکه ویل کېږي چې دمور په خېټه کې له سترګو پنا وی.[2]

**داسلامي شریعت په رڼا کې دجنین د سقط (غورزولو) حکم:**

جنین دمور په رحم کې په دوو مرحلو وېشل کېږي دروح له راتلو مخکې ، او دروح له راتلو وروسته او هره مرحله يې ځانګړی حکم لری :
کله چې جنین دمور په رحم کې څلور میاشتنی شي او روح پکې پیدا شي دټولو فقهاؤ په نزد يې سقط حرام دی .
او دروح له راتلو مخکې دجنین دسقط په اړه دفقهاؤ په منځ کې دنظر اختلاف موجود دی .
۱- احناف ، شوافع ، مالکیه او دحنابله ؤ په مشهور روایت سره دروح له راتلو مخکې دجنین اسقاط داړتیا پرمهال[3] جایز دی .[4]
۲- دمالکیه ؤمشهور روایت او ځینو حنابله ؤ نظر دادی چې دروح له راتلو مخکې هم دجنین اسقاط جایز نه دی [5]

---

1- (القران كريم ، النجم أية :32)
2- محمد بن مكرم بن منظور الأفريقي المصري ، لسان العرب ، دار صادر – بيروت، باب النون ، فصل الجيم ، ۱۳ج ، ۹۲ص.
3- دعذر حالت دادی دمور شېدې پر بل کوچني قطع کيږي يا خرابيږي
4- الدرالمختارشرح تنويرالابصار . ۳ج ، ۱۶ص.. منصور بن يونس بن اريس البهوتي(۱۴۰۲ه - ۱۹۸۲م) ، كشاف القناع ، دار الفكر. ج۱، ص۲۲۰.
5- عبد الله بن أحمد بن قدامة المقدسي (1405ه ) المغني في فقه الإمام أحمد بن حنبل الشيباني ، دار الفكر – بيروت، لومړی چاپ ،۷ج ، ۸۱۶ص.

البتـه پـورتنی حکـم پـه هغـه صـورت کـې دی چـې کلـه ددوا پـه ذریعـه دجنـین سـقط صـورت ونیسي ، که چېرتـه مـور قصدا جنـین سـقط کـړي بیـا مـور ذمـه واره ده ، اګـر چـې دا کـار یـې دمېـړه په اجازه کړی وي ، ځکه چې دمېړه اجازه حرام نشي حلالولی.[1]

کـه چېـرې یـوه مېـرمن دعـلاج پـه خـاطر دوایـي اسـتعمال کـړي او پـه نتیجـه کـې دجنـین سـقط رامنځتـه شي نـو احنـاف مالکیـه او شـوافع فقهـاوایي چـې مـور ضـامنه نـه ده خـو مـیراث تـرې نشی وړلی ء[2]

البته حنابله وایـي چـې مـور یـې ضـامنه ده ، لـه تـاوان څخـه یـې میراث نشي- وړلـی ،ځکه قاتـل لـه مقتول څخه میراث نشي وړلی[3]

البتـه راجـح خـبره داده چـې بغېـر لـه عـذره پـه قصـدي توګـه دجنـین سـقط جـواز نـه لـري لـه روح راتلـو مخکـې وي او کـه وروسـته ، پـه هـره وسـیله چـې وي ، کـه چـا دا کـار وکـړ ګنهګـار دی او تـاوان به یې ورکوي.

البتـه کـه سـقط داړتیـا پـه صـورت کـې وي او ددرمنلـې پـه تـرڅ کـې مـنځ تـه راشي بیـا جـایز دی کـه څـه هـم لـه روح لـه راتلـو وروسـته وي ، ځکـه ددوو نفسـونو (مـور او جنـین )سـاتنه مقدمـه ده ، مګـر داچـې دېولـو اسـبابو لـه اسـتعمال څخـه وروسـته هـم ددواړو ژونـد سـاتل ممکـن نـه وي ، او ددوو مصـلحتونو تـرمنځ ټکـر راشي ،چـې یـا بـه دجنـین ژونـد تـه تـرجېح ورکـوي او یـا بـه دمـور ژونـد ته ، په داسې حال کې چې دواړه دژوند حق لري .

پـه دې اړه امـام غـزالي رحمـه اللـه وایـي : کلـه چـې دوجـوب او تحـریم تـرمنځ ټکـر راشي نـو مطلـق اختیـار مـنځ تـه راځـي ، دمثـال پـه ډول کلـه چـې ولي ددوو کوچیـانو لپـاره دومـره شـېدې ونـه مـومي چـې ددواړو لپـاره کفایـت وکـړي ، کـه یـوه تـه یـې ورکـوي بـل مـري کـه بـل تـه یـې ورکـوي دابـل مـري ، پـه داسـې حـال کـې چـې هـر یـو پـه انفـرادي ډول دطعـام مسـتحق او ورکـول یـې واجـب دي ، او همـدا راز دهـر یـو هلاکـت حـرام دی ، نـو پـه دې حالـت کـې ولي اختیـار لـري ، چـې هـر تـه یـې ورکـوي تـر څـو ددواړو څخـه یـو لـه هلاکـت څخـه وژغـورل شي او یـو تـه نجـات ورکول شي بله لاره نه لري.[4]

ښـکاره خـبره ده چـې کلـه هـم دحمـل پـه بقـاء کـې دمـور مـرګ یقینـي وي ، نـو داسـلامي شریعـت قواعـد داخـف الضرـرین دانتخـاب غوښـتنه کـوي ، نـو پـه دې حالـت کـې بـه جنـین دمـور بـه خـاطر

---

1- فخر الدين عثمان بن علي الزيلعي الحنفي.( 1313هـ.) تبين الحقائق شرح كنز الدقائق ، دار الكتب الإسلامي. القاهرة، ۶ج ، ۲۴۱ص.
شمس الدين أبو عبد الله محمد بن محمد بن عبد الرحمن الطرابلسي المغربي,( 1423هـ - 2003) مواهب الجليل لشرح مختصر الخليل، دار عالم الكتب، ۶ج ، ۸۵۲ص.

2- پورتني مراجع

3 - المغني ، ۷ج ، ۸۱۶ص.

4- الامام أبي حامد الغزالي(1322ه ) المستصفى ، دار صادر بيروت، ۲ج ، ۳۸۱ص.ۀ

قربـاني كـولی شي ، ځکـه چـې مـور اصـل دی ، دکـورنۍ سـتن ګڼـل کېـږي ، دا معقولـه نـه ده چـې دجنین دنجـات لپـاره مـور قربـاني شي چـې تـر دې دمـه یـې په دنیـا کـې دژوند قـدم نـه دی ایښـی او نه بشپړ اهلیت ورته ثابت دی.

پـه دې ځـاي کـې دجنـین مثـال دبـدن دیـو غـړي دی کلـه چـې دیـو غـړي پـه پـرې کېـدو ټـول بـدن ته نجات ورکول کېږي نو په اتفاق دټولو فقهاؤ دغړي پرې کول جایز دي.[1]

امام غزالي رحمه الله دعزل ، اجهاز ، واد ، ترمنځ توپیر کړی دی ، هغه وایي

عـزل لـه اجهـاز او وأد څخـه تـوپیر لـري ، عـزل پـه حقیقـت پداسـې موجـود بانـدې تېـری دی چـې تردې دمـه لانشـته ، او هغـه هـم مراتـب لـري ، دانسـاني وجـود لـومړنۍ مرتبـه ده ، کـه پـه رحـم کـې تـوی ، او مېـرمن داوبـو سره یوځـاي شي ، پـه داسـې وجـود بانـدې تېـرې لـه هغـه سره تـوپیر لـري چـې ، وینـه وګرځي،بیـا دغوښـې ټوټـه شي ، بیادهـډوکو پـه جوړېـدو سره مکمـل جسـد شي ،بیـا داحالـت لـه هغـې تېـري سره تـوپیر لـري چـې روح پکـې واچـول شي ، او لـه هغـې وروسـته سـقط شي ، او تـر ټولـو زیـات جنایـت او تېـری بیـا هغـه دی چـې ژونـدی لـه مـور څخـه تولـد او بیـا ووژل شي.[2]

**۵- دجنین دنسب ساتنه:**

اللـه تعـالی پـه مختلفـو طریقـو دانسـان اکـرام او اعـزاز سـاتلی دی ، داعـزاز یـوه طریقـه لـه اخـتلاط څخـه دانسـاني نسـل سـاتنه ده ، لـه همـدې کبلـه اسـلام زنـا حرامـه کـړې ده ، او نکـاح یـې حلالـه ګرځـولی ده ، عدتونـه یـې پـه مختلفـو طریقـو لازم کـړي دي تـر څـو دنسـل لـه اخـتلاط څخـه سـاتنه وشـی ، دمطلقـې عـدت چـې حامله وي او کـه غیر حاملـه ، دوفـات عـدت تـر څـو دنسـلونو اخـتلاط مـنځ تـه رانشيـ ، پـه ځـانګړي ډول چـې کلـه دکـورني ژونـد حـالات خـراب شي پـه لعـان ، خلـع او طلاق سره.

دنسـل دحفاظـت لپـاره اسـلامي شریعـت هغـه کـوچني چـې ومینـدل شي ، دمینـدونکي ترنسـب پـورې نـه تـړل کېـږي ، او تبنـي [3]یـې حرامـه ګرځـولې ده ، البتـه کـه یـو شـخص بـل شـخص پـورې ځـان وتـړي او پـه دې بانـدې اقـرار وکـړي ، کـه څـه هـم هغـه ذمـي وي نـو نسـبا وصـل کېـږي خـو دینا نه وصل کېږي.[4]

---

[1]- فخر الدين عثمان بن علي الزيلعي الحنفي.( 1313هـ) تبين الحقائق شرح كنز الدقائق ، دار الكتب الإسلامي. ج۵، ص ۱۹۰.

[2]- الامام أبي حامد محمد بن محمد الغزالي(----------)احياء علوم الدين ، دار االمعرفة - بيروت ، ۲ج ، ۵۱ص.۴

[3]- تبني دې ويل کيږي چې يو څوک يو هلک دزوي په توګه ونيسي .

4- علاء الدين، أبو بكر بن مسعود بن أحمد الكاساني الحنفي(1406هـ -1986م) بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ، دار الكتب العلمية دوهم چاپ ، ۶ج ، ۱۹۹ص. الدرالمختار ۴ج ،۲۷۳.

دولد نفي له لعان څخه بغير صورت نه نيسي ، او علماؤ دنسل دحفاظت په خاطر په لعان کې دقيق او تفصيلي شرايط بيان کړي دي .[1]

**٦- دجنين په خاطر دمور درعايت حقوق**

أ - دحمل او شېدو ورکولو په حالت کې دحاملې او شېدې ورکوونکې مور ته روژې خوړلو جواز.

ددې لپاره چې دمور په خېټه کې جنين ته ضرر متوجه نشي اسلامي شريعت حاملې مېرمنې ته درمضان په مياشت کې دروژې خوړلو اجازه ورکړې ده چې وروسته به دهغې قضائي راوړي.[2]

ب- دجنين په خاطر دهغې طلاقې شوې ښځې چې حمل ولري نفقه په مېړه لازمه ده ، الله تعالى فرمايلي دي: ((...وَإِنْ كُنَّ أُولَاتِ حَمْلٍ فَأَنْفِقُوا عَلَيْهِنَّ حَتَّى يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ..)) [3]

ژباړه: او که هغوی حاملې وي نو پر هغوی تر هغه وخته لګښت وکړئ ترڅو چې هغوي حمل نه وي وضع کړی

ج- - دتولد تر وخته د جنين په خاطر دشرعي حدودو او تعزيراتووروسته کول.

علماؤ په اتفاق سره ويلي دي چې پرحامله مېرمن بايد دتولد تر وخته دقصاص ، حدودو او تعزيري جزاءګانې تطبيق نشي ،[4]

او دا هم دجنين دژوند دنجات په خاطر ، الله تعالى فرمايلي دي : وَلَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ إِلَّا عَلَيْهَا وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى ..)[5]

دحاملې مېرمنې وژل جنين ته زيان رسول او په قتل کې اسراف ګڼل کېږي ،او په قتل کې اسراف اسلامي شريعت حرام ګرځولی دی الله تعالى فرمايلي دي : ..وَمَنْ قُتِلَ مَظْلُومًا فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِيِّهِ سُلْطَانًا فَلَا يُسْرِفْ فِي الْقَتْلِ..)[6]

ژباړه: څوك چې مظلوم وژل شوی وي د هغه وارث ته موږ د غچ غوښتنې حق ورکړيدی نو پکار ده چې هغه په وژلو کې له حده تېرى ونه کړی

---

1- أبو عبدالله بن محمد بن عبدالرحمن المغربي ، الحطاب ،(------------) مواهب الجليل لشرح مختصرخليل ، دار الفكر ، دوهم چاپ ۴ج ، ۱۳۳ص.
2- المغني .۳ج ، ۲۰ص.
- القران كريم ( الطلاق آيت ۶)3
4- بدائع الصنائع ، ۷ج ، ۵۹ص.
- القران كريم (الانعام ايت ۱۶۴)5
- القرآن كريم(الإسراء 6

دغامدیـه رضـی اللـه عنهـا واقعـه ددې لپـاره ښـکاره ثبـوت دی کلـه چـې هـم هغـې لـه رسـول اللـه صـلی اللـه څخـه دحـد داقـامې غوښـتنه وکـړه نـو رسـول اللـه صـلی اللـه علیـه وسـلم هغـې تـه دکوچني تر تولد او رضاعت ترمودې پورې مهلت ورکړ.[1]

**۵- د طفل ترتولده دقصاص معطل کول.**

لـه دې حـدیث څخـه دا حکـم هـم اخسـتل کېـږي چـې دجنـین داحـترام پـه خـاطر یـوه مېـرمن چـې دقصاص حکم پرې شوی باید د کوچني تر تولده اودرضاعت تر مودې قصاص نه شي.[2]

دا داسلام ځانگړنه ده چې یو انسان ته دهغه حقوق د مور په خېټه کې ورکول کېږي [3]

**٦- دجنین صحت ته توجه کول.**

اسـلامي شریعـت پـه نارینـه بانـدې دمېـرمن نفقـه لازمـه کـړې ده ، او پـه ځـانگړي ډول دحمـل پـه حالـت کـې دهغـې زیـات خیـال سـاتل پـه کـار دی چـې دښـه خـوراک او څښـاک ترڅنـگ لـه شـاقه کـارونو څخـه وسـاتل شي . دا ټـولې چـارې دجنـین پـه سـالم سـاتلو کـې ځـانگړی رول لـري.ددې ټولـو مـادي چـارو تـر څنـگ مـور مسـئولیت لـري چـې د معنـوي چـارو لکـه دقـران کـریم تـلاوت ، داللـه تعـالی ذکـر ، لمـونځ او داسـې نـورو اهـتمام وکـړي چـې دا چـارې یـو لـوري تـه دمـور دنفسي-اطمنان لامل گرځي اوبل لوري ته  په جنین باندې مثبت اغېز هم لري.[4]

**۷- په میراث کې دجنین حق**

دمـړي مـیراث ترهغـې نـه شي وېشـل کېـدی تـر څـو چـې جنـین دمـور پـه رحـم کـې وي ، ځکـه چـې دجنـین حالـت څرگنـد نـه دی چـې ژونـدی تولـد کېـږي او کـه مـړ؟ پـه هـر حالـت کـې دجنـین دمیراث حق تغیر کوي .

۸- په لمبولو، کفن ورکولواو جنازې لمانځه کې دجنین حق.

دټولـو فقهـاؤ پـه نظـر کلـه چـې جنـین لـه مـور څخـه وغـورزیږي اواز وکـړي ، غسـل بـه ورکـولای شي، کفـن بـه ورکـول کېـږي دجنـازې لمـونځ بـه پـرې کېـږي او دفـن کېـږي بـه او پـه دغـو چـارو کـې دعادي طفل حکم لري [5]

**پایلی**

---

1- أبو بكر عبد الله بن محمد بن أبي شيبة الكوفي(1409ه) المصنف في الأحاديث والآثار، مكتبة الرشد – الرياض ، لومړی چاپ ج۱۴،ص۵۴۲.

2-أبي زكريا يحيى بن شرف النووي (1407 هـ - 1987 مـ) صحيح مسلم بشرح النووي ، دار الكتاب العربي بيروت - لبنان، ۶ج ، ۱۱۷ص.

[3] - خالد عبدالرحمن العک ،(1423ه ) تربية الأبناء والبنات في ضوء القرآن والسنة، مؤسسة الرسالة ، بيروت لومړی چاپ ، ص 34.

[4] - محمد مصطفى الزحيلي (2012م) حقوق الاولاد على الولدين في الشريعة الإسلامية ،مؤسسة الرسالة، بيروت-لبنان . ص ۱۶.

[5]- تبيين الحقايق ، ۱ج ، ۲۴۳ص.

دموضوع دڅېړنې په ترڅ کې زه لاندې نتايجو ته ورسېدم:
۱- اسلامي شريعت دانساني ژوند په هره مرحله ځانګړي حقوق په نظر کې نيولي دي.
۲- داولاد دراتلونکي په نظر کې نيولوسره پر والدينو لازم دي چې دنکاح په ټاکنه کې ديني لارښوونې په نظر کې ونيسي.
۳- پر والدينو لازمه ده چې نکاح يواځې دشهوت پوره کولو په خاطر ترسره نه کړي بلکې هدف يې توالد او تناسل وي او دهمدې هدف لپاره اسلامي شريعت نکاح مشروع ګرځولې ده.
۴- والدين بايد بې له اړتيا د جنين له سقط څخه ځانونه وساتي ځکه چې دروح له راتلو وروسته دټولو فقهاؤ په نزد دجنين سقط جواز نه لري ، او دروح له راتلو مخکې احناف ، شوافع او دحنابله ؤ په مشهور روايت سره داړتيا پر مهال دجنين سقط جوازلري، او دمالکي فقهاؤ په مشهور او حنبلي فقهاؤ په غير مشهور روايت سره دجنين سقط په هيڅ حالت کې جواز نه لري.
**۵-** که چېرې يوه مېرمن دعلاج په خاطر دوايي استعمال کړي او په نتيجه کې دجنين سقط رامنځته شي نو احناف مالکيه او شوافع فقهاوايي چې مور ضامنه نه ده خو ميراث ترې نشي وړلی.
**٦-** دحمل د بقاء په صورت کې که د مور مرګ يقيني وي ، نو داسلامي شريعت قواعد داخف الضررين دانتخاب غوښتنه کوي ، نو په دې حالت کې به جنين دمور به خاطر قرباني کولی شي.
۷- دانساني کرامت دساتنې په موخه اسلامي شريعت د انسان دنسب دساتنې حکم کړی دی ، دمېړه او مېرمن دبېلتون په حالت کې يې پر مېرمن عدت لازم کړی دی.
۸- اسلامي شريعت د مور په خېټه کې دجنين دحقوقو دساتنې په موخه دمور څخه قصاص ، حدود او تعزيرات تر تولد پورې معاف کړی دی ، او هم يې دجنين په خاطر درمضان په مياشت کې دروژو خوراک ورته جايز کړی دی.
۹- اسلامي شريعت جنين ته په ميراث کې حق ورکړی دی ، اولياء بايد دغه په نظرکې ونيسي.

**مناقشه**

له تولد څخه مخکې چې اسلامي شريعت کوم حقوق انسان ته ورکړی دهغې له جملې يو دادی چې دهغه ساتنه وشي او له ضياع څخه وژغورل شي نو دانساني نسل دزياتوالي او

حفاظت لپاره یې مسلمانان مکلف کړل چې دنکاح تړون ترسره کړي ، دنسل له قطع کولو او داولاونود بندولو څخه ځانونه وساتي او دا کار یې پر دوي حرام وګرځاوه ، داسلام دشمنان تل هڅه کوي چې دمسلمانانو دنسل دکموني او وژنې لپاره ډول ډول تکتیکونه په کار واچوي ، او ځینې مسلمانان هم د پوهې او یا ناپوهی سره دهغوي ددغوپلانونو دتطبیق لپاره په اسلامي شریعت کې د اولادونو دقطع کولو او بندولو دجواز روایتونه لټوي او پر دعزل پرحدیث استدلال کوي ، په داسې حال کې چې عزل ته رسول الله صلی الله علیه وسلم په صریحې ډول اجازه نه ده ورکړې بلکې نه یې په کلکه تري منع کړل او نه یې دحرمت اعلان وکړ ، ځکه چې درسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې دوینځو سره دکوروالـه په صورت کې ځینو صحابه ؤ عزل کولو هغه هم دځینو شرعي معازیرو پر بناء چې عام روانج نه ؤ که داوسنی زماني په څېر درسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کې دا کار دیو حرکت په څېر شروع شوی ؤ ، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به بې له شکه له دې کار څخه خلک منعه کړي وو.

دروح له راتلو مخکې دجنین سقط دجمهورو په نزد داړتیا پرمهال جایزدی خوپه هغه صورت کې چې کله ددوا په ذریعه دجنین سقط صورت ونیسي ، که چېرته مور قصدا جنین سقط کړي بیا مور ذمه واره ده ، اګر چې دا کار یې دمېړه په اجازه کړی وي ، ځکه چې دمېړه اجازه حرام نشي. حلالولی او دحنابله په نزد په هر صورت کې دجنین سقط جایز نه دی، ددوي په نزد دغه عمل دجاهلیت ددور عمل ته ورته دی هغوي به اولادونه یا داقتصادي مشکلاتو له امله وژل ، یا به بې مورده غیرت له کبله او په دواړو باندې اسلامي شریعت رد وکړ .

**نتیجه ګیري:**

**۱-** په عام ډول داولادونو قطع او تحدید نسل داسلامي شریعت په رڼا کې جواز نه لري ، خو که په انفرادي ډول داړتیا پر مهال چې دمخکینې کوچني دشېدو دخرابېدو او یا دمور درنځوری موضوع وي او دیو پوه مسلمان ډاکټرپه مشوره وي دنسل تنظیم باک نه لري او جایز دی.

**۲-** والدینو ته روا نه دي چې دمور په خېټه کې جنین په قصدي ډول سقط کړي ، مګر په هغه صورت کې د مور او جنین څخه دیوه هلاکت حتمي وي په دې حالت کې دمور دنجات په خاطر جنین قرباني کېږي.

**۳-** بغېر له عذره په قصدي توګه دجنین سقط جواز نه لري له روح راتلو مخکې وي او که وروسته ، په هره وسیله چې وي ، که چا دا کار وکړ ګنهګار دی اوضمان به یې ورکوي.

**وړاندیزونه**

۱- والـدین بایـد دیـو مسـلمان پـه توګـه داولاد هغـه ټـول حقـوق چـې لـه تولـد څخـه مخکـې وي یـا وروسـته چـې اسـلامي شریعـت پـر دوي لازم کـړي دي خپـل اولاد تـه ورکـړي ، او یـواځې دکوروالـه په کولو دمسئولیت دتر سره کولو فکر ونه کړي.

۲- دولـت بایـد دعـام پوهـاوي پـه خـاطر داسـې برنـامې دمیـډیا لـه لارې خپلـو خلکـو تـه نشرـ کـړي چې پکې داولادونو دمادي او معنوي حقوقو تبلیغ شوی وي.

۳- هـر مسـلمان پـه دې پـوه شي چـې د اولادنونودحقوقـو تـر سره کـول ددوي دینـي فریضـه ده او دقیامت په ورځ به په دې برخه کې پوښتل کېږي.

۴- پـه ټولـو علمـي مراکـزواو تحصـیلي موسسـو کـې بایـد داولادونـو دحقوقـو پـه نـوم یـو مضـمون ولوستل شي چې راتلونکی نسل مو په سمه توګه وروزل شي.

## مصادر او مراجع


1- القران الكريم

2- ابن تيميه، تقي الدين أحمد بن عبد الحليم (1426 هـ / 2005 م ) مجموع الفتاوى , دار الوفاء .

3- الأفريقي، محمد بن مكرم بن منظور ، لسان العرب ، دار صادر – بيروت.

4- الامام أبي حامد محمد بن محمد الغزالي(-----------)احياء علوم الدين ، دار االمعرفة - بيروت .

5- ابن نجيم الحنفي ، زين الدين بن إبراهيم بن محمد (1422هـ -2002م ) البحرالرائق شرح كنز الدقائق ، دار احياء التراث العربي

6- البخاري، ابو عبد الله محمد بن إسماعيل ، (1407هـ) صحيح البخاري ، تحقيق محب الدين الخطيب،القاهرة،دریم چاپ, المكتبة السلفية.

7- البهوتي ، منصور بن يونس بن اريس ، الدرالمختارشرح تنويرالابصار (۱۴۰۲ه - ۱۹۸۲م) ، كشاف القناع ، دار الفكر.

8- البيهقي. أبو بكر أحمد بن الحسين بن علي ا،(1344 هـ) السنن الكبرى ، مجلس دائرة المعارف النظامية الكائنة في الهند ببلدة حيدر آباد

9- الحميدي، محمد بن فتوح ،(1423هـ - 2002م) الجمع بين الصحيحين البخاري ومسلم، دار ابن حزم - لبنان/ بيروت

10- الحنفي ، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيزعابدين الدمشقي (1412هـ - 1992م)حاشية رد المختار على الدر المختار شرح تنوير الأبصار ، دار الفكر للطباعة والنشر، بيروت.

11- الزحيلي ، محمد مصطفى (2012م) حقوق الاولاد على الولدين في الشريعة الإسلامية ،مؤسسة الرسالة، بيروت-لبنان

12- الزيلعي فخر الدين عثمان بن علي الحنفي.( 1313هـ.) تبين الحقائق شرح كنز الدقائق ، دار الكتب الإسلامي. القاهرة
13- العک ، خالد عبدالرحمن ،(1423ه ) تربية الأبناء والبنات في ضوء القرآن والسنة، مؤسسة الرسالة ، بيروت .
14- الغزالي، الامام أبي حامد (1322ه ) المستصفى ، دار صادر بيروت.
15- الكاساني ، علاء الدين، أبو بكر بن مسعود بن أحمد الحنفي(1406هـ -1986م) بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ، دار الكتب العلمية
16- الكوفي، أبو بكر عبد الله بن محمد بن أبي شيبة (1409ه) المصنف في الأحاديث والآثار، مكتبة الرشد – الرياض.
17- القزويني محمد بن يزيد أبو عبدالله (_______) سنن ابن ماجه، تحقيق: محمد فؤاد عبد الباقي، دارالفكر – بيروت.
18- المغربي ، شمس الدين أبو عبد الله محمد بن محمد بن عبد الرحمن الطرابلسي,( 1423هـ - 2003) مواهب الجليل لشرح مختصر الخليل، دار عالم الكتب.
19- المقدسي ، عبد الله بن أحمد بن قدامة (1405ه ) المغني في فقه الإمام أحمد بن حنبل الشيباني ، دار الفكر – بيروت،
20- المودودي ، سيد أبوالأعلى (1399ه – 1979م )حركة تحديد النسل ، مؤسسة الرسالة .
21- النووي ، أبي زكريا يحيى بن شرف (1407 ه - 1987 م) صحيح مسلم بشرح النووي ، دار الكتاب العربي بيروت

## خلاصة المقال

الأبناء والبنات نعمة من الله تعالى يستحق عليها الشكر الكثير الجزيل فيجب على الوالدين أن يراعي حقوقهم قبل الولادة، وبعد الولادة ظو فمن حقوقهم قبل الولادةحسن اختيار الزوجين ، ورغب كل من الزوجين آن يرجح جانب الديانة في اختيار الزواج كما قال رسول الله صلي الله عليه وسلم ((تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ لِأَرْبَعٍ لِمَالِهَا وَلِحَسَبِهَا وَجَمَالِهَا وَلِدِينِهَا فَاظْفَرْ بِذَاتِ الدِّينِ تَرِبَتْ يَدَاكَ))(1)وقال: « إِذَا جَاءَكُمْ مَنْ تَرْضَوْنَ دِينَهُ وَخُلُقَهُ فَأَنْكِحُوهُ إِلاَّ تَفْعَلُوهُ تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الأَرْضِ وَفَسَادٌ عَرِيضٌ »2 فكان حسن اختيار الزوجة والزوج من أجل الأولاد أكثر أهمية من بقية العوامل ، ومن حقوقهم أن يتبع السنة في حياتهم الزوجية ويدعو الله ليرزقهم الله ولدا صالحا ، ومن حقوقهم أن يجتنب عن تحديد النسل وقطعها منها سقط الجنين فلا خلاف بين الفقهاء في عدم جواز إسقاط الجنين بعد نفخ الروح إلا إذا كان في بقاء الحمل خطر علي الأم ، وثبت بطريق موثوق أنه يودي بحياتها فنضحي بالجنين في سبيل استبقاء الأم ، وأما قبل نفخ الروح فقال الحنفية والشافعية والمالكية في غير المشهور وبعض الحنابلة يجوز إسقاطه ، وقال بعض الحنفية يأثم فاعله ولكن ليس كإثم القتل .ويرى حرمة إسقاط الجنين ولوكان قبل نفخ الروح المالكية في المشهور وبعض الحنابلة .ومن حقوق الأولاد قبل الولادة حفظ نسبه حيث حرم الاسلإم الزنا وأحل الزواج ، وشرع العدد بأنواعها ، عدة الطلاق للحامل ولغير الحامل ، عدة الوفاة ، حدد أقل وأكثر مدة الحمل ليعرف الإنسان نسبه . ومن حقوق الأولاد قبل الولادة رعاية حقوق الأم من أجله ، منها جواز فطرالحامل في رمضان من أجل الحمل ، ومنها جوب النفقة الحامل المطلقة رجعية كانت أو بائنا حتى تضع حملها.ومنها تأجيل إقامة القصاص والحد على الحامل حتى تضع حملها.ومن حقوق الجنين قبل الولادة التوجه إلى صحة الجنين وحفظ نفسه حتى لايجوز أقامة القصاص والحد على أمه من أجله .وكذا أوجب الإسلام الدية أو بدلها على من تسبب في إسقاطه ولو بالتخويف. ومن حقوق الأولاد قبل الولادة ثبوت حق الجنين في الميراث فلايجوز تقسيم التركة بين الورثة قبل بعد ولادة الجنين . وكذا ثبت حقه بعد موته من تغسيل وتكفين والصلاة عليه والتدفين.

[1]-صحيح البخاري،١٦ج،٣٣ص،٤٧٠٠حديث.

2- أبو بكر أحمد بن الحسين بن علي البيهقي،(1344 هـ) السنن الكبرى وفي ذيله الجوهر النقي ، مجلس دائرة المعارف النظامية الكائنة في الهند ببلدة حيدر آباد لومړى چاپ ـ ، 7ج ، 82 ص.